د افغانستان اسلامی جمهوریت

د پوهني وزارت

د  عمومي تعليماتوعمومی رياست

د لومړنيو او ثانوي زده کړو رياست

دمحلی زده کړو
د پاليسي لارښود

سلواغه ۱۳۹۰

## د محتویاتو جدول

مخففات ........................................................................................................ 4
سریزه ........................................................................................................ ٥
A برخه – شرایط او پس منظر ........................................................................ ٧
د هیواد شرایط ........................................................................................ ٧
د پوهنې سکتور: ...................................................................................... ٨
B برخه – د محلي زده کړو پالیسي او لاربنودنه ................................................ ٩
دلیل ........................................................................................................ ٩
موخه ........................................................ Error! Bookmark not defined.
د محلي ښوونځی تعریف ........................................................................... ١١
د محلي ښوونځیو د رامنځته کیدلو معیارونه ................................................... ١١
غوښتنه: ................................................................................................. ١١
واټن/ فاصله: ............................................................................................ ١١
د ماشومانو شمیر ..................................................................................... ١٢
د ټولنې تعهد او ګډون ................................................................................ ١٢
د محلي یا الحاقیه ښوونځي د رامنځته کیدو پروسه ........................................... ١٢
د اړتیاؤ ارزونه : ........................................................................................ ١٢
د پروژې ډیزاینول ...................................................................................... ١٢
تفاهم لیک .............................................................................................. ١٣
د ټولنې چمتو والي او ګډون ......................................................................... ١٣
دمحلی ښوو نځي جوړول ............................................................................. ١٣
کلسترینګ(ګروپ بندی) ............................................................................. ١٤
د محلي زده کړو لپاره د زده کړې ځای ............................................................ ١٤
د محلي ښوونځیو ګروپ بندي/کلسترنګ ......................................................... ١٤
ښوونیز کال او د محلي ښوونځیو لپاره درسی ساعتونه.... Error! Bookmark not defined.
د محلي ښوونځیو سرپرستي او څارنه .............................................................. ١٦
د ښوونځي شورا د محلي ښوونځي لپاره ............................................................ ١٦
دزده کونکونوم لیکنه، بدلول او فارغیدل ......................................................... ١٧
د محلي ښوونځي دښوو نکو استخدامول، معاش او ترینګ ...................................... ١٨
استخدام او تحصیلي ځانګړتیاوي ................................................................... ١٨
دښوونکونوم لیکنه او اعتبار ورکونه ............................................................... ١٨
دښوو نکو معاش او حاضري .......................................................................... ١٩
دښوو نکو روزنه/ترینینګ ............................................................................. ١٩
د درسي کتابونو او د زده کړې د توکو چمتو کول ................................................. ٢٠
C برخه – د چټکي زده کړې پروګرام ............................................................... ٢١
د چټکي زده کړې پروګرام تعریف .................................................................. ٢١
د چټکي زده کړې په مرکزونو کې شمولیت ........................................................ ٢٢
د آزمویني کړنلاره ..................................................................................... ٢٢
په دولتي ښوونځیو کې د چټکي زده کړې پروګرام د زده کوونکوشمولیت ................ ٢٣
D برخه – د محلي ښوونځیو د تسلیمولو پروسه ................................................... ٢٤
تسلیمول ................................................................................................ ٢٤

د زده کونکو مدغمول په دولتي ښوونځیو کي................................................................. ٢٤
د مرکزي(دولتي)ښوو نځي د الحاقیه ټولګیو په ټوګه دوام................................................. ٢٤
لومړني ښوو نځي ته ارتقا ورکول ......................................................................... ٢٤
د محلي ښوو نځیو د ښوونکو ادغامول ...................................................................... ٢٤
**د پروګرام دپلی کونکو همکارو ادارو رول وروسته د تسلیمي څخه.................................... ٢٤**
**د محلي ښوونځي تړل........................................................................................ ٢٤**

**E برخه نها یی احکام........................................................................................ ٢٦**
**د دي لارښود حکم ........................................................................................... ٢٦**
**نور معتبر اسنا د.............................................................................................. ٢٦**
**تنفیذول.......................................................................................................... ٢٦**
**د یاد لارښود د پلی کونکو لپاره سرچیني او مواد................................................... ٢٦**

مخففات

| | |
|---|---|
| ALP | د چټکې زده کړې پروګرامونه |
| CBE | محلې زده کړې |
| CBS | محلې ښوو نځې |
| EFA | زده کړه د ټولو لپاره |
| MDG | د هزاره پرمختیایې موخې |
| MoE | د پوهنې وزارت |
| MEOS | د پوهنې وزارت الحاقیه ښوونځې |
| NGO | غیر دولتی مؤسسات |

## سریزه

په افغانستان کې د دونیمې لسیزې جګړې او بې ثباتي په ترڅ کې، ټولنیز جوړښتونه له منځه تللي او اقتصادي زیرمې په قسمي توګه ویجاړې شوي دي. د ښووني اوروزني سکتور د لویو ننګونو سره مخامخ شوې او یاد سکتور د افغانستان د دولت یو لومړي توب بلل کیږي.

د دولت چارواکو دښوو نې سکتور په برخه کې د اړتیا وړ سرچیني تخصیص ورکولو ته په کافي اندازه د لچسپي نده ښودلې. نړیواله ټولنه سربیره پردې چې د ښووني په اهمیت باندې پوهیږي، د جګړې او نا امني د پیچلتوبونو سره مخامخ ده، چې دا موضوعات په دې برخه کې د کارکولو د ځنډ لامل کرځیدلي دي.

د ۲۰۰۱ کال څخه را په دې خوا، د افغانستان دولت او یوشمیر نړیوال مرسته کونکي په کډه توګه په افغانستان کې د ښووني سیستم د تقویت او بیا رغوني په برخه کې دې لومړنی سطحې څخه نېولي تر لوړې سطحې پورې او د افغانستان د پرمختیا او بیارغوني په برخه کې د ښووني د اهمیت په پوهیدلو سره، یوه اندازه زیاتې پیسې او د بشرې سرچینېو ظرفیت، پانګه اچونه کړې ده.

وروسته د مؤقت دولت، انتقالي دولت او په وروستیو کې د انتخابي دولت په رامنځته کیدلو سره، نړیوالې ټولني تر ډیره بریده د افغانستان د ښووني سکتور په برخه کې پاملرنه کړې ده، ترڅو وکړاي شي اړیني اړتیاوې په چټکي سره چې امکان ولري پوره کړي. په هغه چوکاټ کې چې د ځوانانو د تعلیم پر اصولو باندې ولاړ دي تر څو وکولاي شي اقتصادي مصؤنېت تأمین او وده ورکړي، نړیواله ټولنه په متداومه توګه د ننګونو سره مخامخ شوي ده.

د افغانستان اسلامی جمهوریت د هزاره پرمختیایي موخو په وړاندې او د ښووني چمتو کول د ټولو لپاره، قوي عزم او هوډ لري. د افغانستان د اساسي قانون ۴۳ ماده د ښووني چمتو کول د ټولو ماشومانو لپاره د لومړي ټولګي نه تر لسانس دورې پورې، پرته د جندر، قوم، جغرافیایي موقعیت او مدني حالت په پام کې نېولو سره بې له تبعیض څخه تضمینوي. افغانستان د کوچونېانو د حقوقو په اړه بین المللي تړون تائید او لاسلیک کړي دي او په دې باندې موافقه لري چې ښوونه د ټولو ماشومانو اساسی حق دي. د یادو مادو پربنسټ، افغانستان د ا مسؤلیت په غاړه اخیستلي دې ترڅو ارزښتونو، پوهني او مهارتونو ته پرته له تبعیض څخه د ټولو د مشارکت او مساواتو پر بنسټ، وده ورکړې او خپل تعهد د مساوي حقونو د مفکورې په وړاندې، ښووني ته د مساوي لاسرسي پر بنسټ نه، بلکه د مساوي فرصتونو چمتوکول د افغانستان ټولو ماشومانو لپاره، پلي کوې.

څرنګه چې یو شمیر زیات افغان ماشومان( نجوني او هلکان) شتون لري چې هغوی د پوهنې وزارت اړوندو ښوونځیو د شمولیت د لارښودونو څخه زیات عمر لرې، خو د پوهني وزارت د دولتي او غیر دولتی سازمانونو او مرسته کونکو څخه غوښتنه کړې ترڅو د هغه ماشومانو لپاره چې د رسمی تعلیمی بهیر څخه د مختلفو لاملونو له کبله وروسته پاتې دي، دښوونېز سیستم ملاتړوکړي .

د پوهني وزارت د غه بشر دوستانه او زړه سوانده پاملرني او غوښتني څخه وروسته، داخلي او نړیوالو سازمانونو د پوهني وزارت د دغي غوښتني په ځواب کې مثبت غبرګون وښودولو او د افغانستان د پوهني وزارت سره سم یې محلي ښوونه او د چټکي زده کړې پروګرام پیل کړو. د چټکي زده کړې پروګرام او محلي ښوونېز پروګرامونو کې د پوهني وزارت درسي کتابونه کارول کیږې. د چټکي زده کړې پروګرام داسي ډیزاین شوي دي چې زده کونکي کولاي شي دوه تعلیمی کلونه په یوه کال کې تکمیل کړي. ټول هغه زده کونکي چې یادو ښوونېزو پروګرامونو د شپږم ټولګې څخه فارغیږی، هغوي به د پوهني وزارت رسمی ښوونځیو ته ور و پیژندل شي. هر هغه

ستونزې چې يو زده کوونکي د چټکې زد ه کړې پروګرام او د محلي ښوونېزو پروګرامونو څخه د فارغيدلو په محال ورسره مخامخ کيږي، هغه به د پوهنې وزارت د ښوونځيو له لارې ليرى شې.

## A برخه – شرایط او پس منظر

### ۱. د هیواد شرایط

افغانستان د آسیا په جنوب کې موقعیت لري او۶۴۷،۵۰۰متر مربع مساحت درلودنکې دي، او د اداري پلوه په ۳۴ ولایاتو او ۳۶۴ ولسوالیو باندې ویشل شوي دي[1]. او د توپوګرافی له نظره، افغانستان په وچه محاط او غرني هیواد دي او د تودوخي له پلوه، ګرم اوړي او یخ ژمي لري. د افغانستان نظام یو ریاستي نظام دې او په اساسي قانون کې قدرت په دریو برخو باندې چې عبارت دي له قضایه قوه، اجرایه قوه او مقننه قوه باندې ویشل شوي دي. اجرایه قوه د ۲۵ وزارتونو او یوشمیر عمومی مستقلو ادارو څخه متشکل ده. جمهور رئیس د دولت او اجرایه قوې په رأس کې دي او دوه معاونین لري.

د افغانستان نفوس ۳۳٫۵ ملیونه تخمین شوي دي[2]( د ۱۹۷۹ کال د احصایه په پام کې نیولو سره اټکل شوي دي). دري لسیزو بحران په افغانستان باندې یو زړه بوږن نونکې اثر پریښودلي دي. نن ورځ افغانستان د نړي په کچه د بی وزلو هیوادنو څخه شمیرل کیږي، چې د ۱۸۷ هیوادنو منځ کې ۱۷۲ ام مقام لري د ملګرو ملتونو د پرمختیایي پروګرام د بشري پرمختیا د شاخص پر بنسټ[3] او د ژوند اوسط په کې۴۴ اټکل شوي دي[4]. افغانستان په لوړه کچه باندې به بهرنیو مرستو متکی پاتې دي اود نړی په کچه د ژوند کولو ستندردونه یې ډیر ټیټ دي.

فقر په افغانستان کې د محرومیت او آسیب منلو په پام کې نیولو سره مشخص شوې دي چې د ولایت او جندر پر بنسټ ابعاد لري او د ښار او کلیو ویشل په نښنه کوي. د ٪۳۶ زیات نفوس د فقر د کرښی څخه لاندې ژوند کوي، او نیم څخه زیات نفوس د سختي آسیب منلی په حالت کې ژوند لري. سربیره پر دي، د بیکاري رسمی کچه د ٪۷٫۹-۷٫۱ څخه پورته ده (NRVA 2007/8, 2010)، بیکاري یو سرتاسري ستونځه بلل کیږي، سره له دې چې ٪۴۸ د کار او کسب خاوند نفوس په ښارونو کې او ٪۵۳ د کار خاوند نفوس په کلیو کې د کم کاری لاندی تصنیف شوي دي( د ۳۵ ساعتونو نه کم په اونی کې). په هغه هیواد کې چې د ير شمیر تولنیز خدمات پرته له فیس څخه وي، دهغي پایلي به د عوایدو کمښت وي چې دا به د افغانانو د ژوند د کیفیت د ښه والي په وړاندې یو خنډ وي.

یوازی ٪۲۷ نفوس د ښښلو پاکو او صحی اوبو ته لاس رسي لرې او ٪۴۱ د برق څخه مستفید دي (NRVA 2007/8). افغانستان د نړی په کچه یو له هغو هیوادنو څخه دي چې په کې د میندو د مړيني کچه(۱۴۰۰ مړینه پر ۱۰۰۰۰۰) او همدارنګه د ماشومانو د مړيني کچه په ځانګړې توګه د پنځو کلونو نه ښکته ما شومان، په لوړه کچه کې قرار لرې. د هیواد ٪۱۵ وګړی لومړنیو صحی خدماتو ته لاسرسي نلري، ځلور تر پنځو ملیونو خلک ډیر آسیب منونکی دې او ۶٫۲ ملیونه خلک په عاجل ډول صحی خدماتو ته اړتیا لرې، او د هر ۱۴ افغان ماشومانو څخه چې عمر یې د پنځو کلنو څخه ښکته دي، یو ماشوم د حادې سؤتغذی څخه رنځ وړي. سربیره پر دي، ۷٫۳ (۳۱ سلنه نفوس) ملیون خلک د مصؤنه خوړو څخه برخه مند ندي او ۵٫۴ ملیونه خلک (۲۳ سلنه نفوس) د نامصؤنه خوراکي توکو څخه آسیب منونکی دي (NRVA 2007/08).

---

1 http://www2.ohchr.org/english/bodies/crc/docs/CRC.C.AFG.1.doc1043373 څخه اخیستل شوې

2 د ملګرو ملتونو سکرتریت د اقتصادی او ټولنوونیزو چارو دیپارتمنت د نفوس څانګه
د نړۍ د نفوسو اټکل: 2010 څیړنه، http://esa.un.org/unpd/wpp/index.htm

3 د ملګروملتو پرمختیاې پروګرام، د بشرې پرمختیایې رپوټ، 2010

4 افغانستان په یوه لنډه کتنه کې، نړیوال بانک 2010

نژدې ۴۰٪ ماشومان چې لومړنیو تولګیو په عمر کې قرار لري، د پوهنې د سیستم څخه د باندې پاتي دي او دهغوي ۶۰٪ نجوني دي. د نجونو د تعلیم په وړاندې یوشمیر ستونزې شتون لرې چې عبارت دي له تاریخي او کلتوري موانع، په دولتي ښوونځیو باندې بریدونه، عمومی نا أمنی د هیواد په ډیرو برخو کې، ښوونځیو ته د لرې واټن شتون، د ښځینه ښوونکو کمبود، چې دا ټول د هیواد په تعلیمی سیستم باندی جدي ناوړه او منفی اثرات درلودلي دي. سره له دې ناخوالو سره ملت بیا هم ژوندي دي او دخلکو د انعطاف منني ستاینه باید وشي. ټولنو خپله فوق العاده لیوالتیا ښودلي ترڅو د سولې د راوستلو لپاه کار وکړي او اساسي خدمات چمتو او د خپلو ماشومانود ښوونې او روزنې له لارې د افغانستان د راتلونکې لپاره پانګونه وکړي.

## ۲. د پوهني سکتور:

د روان بحران سربیره، د ۲۰۰۱ کال نه را په دې خوا د پوهنې په سکتور کې لوي پرمختګونه تر سره شوي دي. د ۲۰۰۱ کال نه را په دې خوا د زده کونکو په شمیر کې یو چټک زیاتوالی راغلی، چې ۲۰۰۱ کال کې د یوه ملیون څخه تر ۷،۳ ملیون پورې په ۲۰۱۰ کال کې( عمومي تعلیمات، اسلامی تعلیمات، TVET، او ښوونکو روزنې په برخو کې) زیاتوالی راغلي دي. د پوهنې په سیستم کې د زده کونکو د شمیر په زیاتیدلوسره دهغوي ۳۸٪ نجونی جوړوي.
د پوهنې وزارت د پوهنې سکتور په پرمختګ کې غټ ګامونه اخیستی دي او د دې موخو په وړاندې چې پوهنه د ټولو لپاره او همدارنګه د هزاره پرمختیایی موخو په وړاندې هوډ من/متعهد پاتي دي. د پوهنې وزارت په بریالیتوب سره د پوهنې لومړنی ملی استراتیژیک پلان (NESP 1, 2006-10)پلي کړي دي. او د پوهنې دوهم ملی استراتیژیک پلان (NESP 2 2010-14) پلي کیدل یی پیل کړي دي او همدارنګه د پوهنې یو مؤقت پلان (EIP, 2011-13) یې طرح او ترتیب کړی دي. چې یادې لاسته راوړنې د پوهنې سیستم د بیا رغونې په وړاندې، د پوهنې وزارت د ټینګ هوډ ښکارندوي دي او د پوهنې په کیفیت باندې د منفي اثراتو په وړاندې یو مثبت غبر ګون بلل کیږي.
په داسي حال کې د پوهنې په سکتور کې لاسته راوړنې د ستاینې وړ دي، یو شمیر ننګونی هم شتون لري. د ۴ ملیونو په شاوخواه کې د ښوونځې وړ عمرماشومان د ښوونځی څخه محروم پاتي دي، په داسي حال کې چې یو ملیون د دایم لپاره غیر حاضر دي. یادو ننګونه رفعه کیدلو په موخه د پوهنې سکتور باید د خدماتو خپل ظرفیت دوه برابره کړي. سربیره پر دې چې د ښوونکو د روزنې په برخه کې متداومه پانګونې او د ښوونځیو رغول کولای شي چې تر یوه حده پوری یادې ستونځې یې رفع کړي، ولې د افغانستان ځینې توپوګرافیک سیمې او په هغو کې د خلکو کم شمیر لرې پرتو سمیو ته د دولتي ښوونځیو چمتوکول په لنډ او متوسط موده کې، د ستونزو سره مخامخوي.

## B برخه – د محلي ښووني پالیسي او لارښودونه

### دليل

یوه لنډه کتنه ارقاموته په چټک ډول د ستونزو کچه، چي د پوهني وزارت ورسره مخامخ دي او د دي اړتیا چي باید بدیلي لارې د ښووني اوروزني لپاره ولټول شي را په ګوته کوي. اوس مهال ۴،۲ ځخه زیات ماشومان د ښوونځي ځخه بي بهري پاتي دي، چي د هغي ٪۶۰ نجوني دي. د ۱۸۶۸۶۴ ښوونکو ځخه ٪۶۸ هغه ښوونکي دي چي دشرایطو وړ ښوونکو لپرتلړه ( دځوارلسم فارغ) نه پوره کوي. د ښوونکو او زده کوونکو تناسب ۱:۳۴ (۲۰۱۰) دي او که چیرته هغه دایمي غیرحاضر زده کونکي بیا ښوونځیو ته مخه کړي نو د زده کونکو د نوم لیکني/شمولیت کچه به په تخمیني توګه ۸،۶ ملیونو ته په ۲۰۱۲ کال کي، پورته لاړه شي او یاد تناسب به تر۶۰-۵۰زده کونکو پر هر ښوونکي پوري ورسیږي. سربیره پر دي، د ۱۲۴۲۱ښوونځیو ځخه تر اوسه ٪۵۰ ښوونځي پرته له وداني پاتي دي.

د افغانستان جغرافیا، د جندر او کلیو او ښارونو تمایز، نا أمني، بي کیفیته ښوونه او روزنه او ادارای محدودیتونه دا هغه مسایل دي چي یاده دنده د ستونزو سره مخامخوي. د اړتیاوو را منځته کیدل د ډیریدولو په حالت کي ده. د پوهني په برخه کي د اړتیاوو اوه ځلي ډیریدل، د موجوده تعلیمي خدمتونو د وړاندي کولو په سیستم باندي یو لوی بار ایښي دی. سربیره پردې چي تقویتي اقدامات ترسره شوي دي، د تمویلولو سرچینیو محدویت د اړتیاو پوره کول په مؤثره توګه په اوسطه موده کي، محدود وي. نو له دي کبله، د افغانستان په دولت باندي یو غټ فشار دي تر ځو د ښووني او روزني د وړاندي کولو بدیلي لارې، په لنډه او متوسطه موده کي د دغو اړتیاو د پوره کولو لپاره په پام کي ونیسي.

د نجونو او هلکانو د شمیر زیاتیدل مهم دي، ولي باید ورسره لاس په لاس کیفیت او د جندر مساوات هم وچت شي. ځرنګه چي ریوټ شوي ده، د یوي ښي پالیسي لومړیتوبونه په ۲۰۰۸ کال کي ښوونه د ټولو لپاره، د ارزوني نړیوال ریوټ، دولت باید هغو پالیسیو ته ارتقا ورکړي چي با کیفیته ښوونه او روزنه ټولو ماشومانو ته دهغو ماشومانو په شمول چي تر اوسه ښووني ته لاس رسي نلري، چمتو کوي. چي دا کار دي ته اړتیا لري تر ځو په کافي اندازه نوي ښوونځی او ښوونیز مرکزونه په ټول هیواد کي رامنځته شي ، او په کافی اندازه ښوونکی په دنده وګمارل شي تر ځو د زده کونکو او ښوونکو تناسب د نظم په محدوده کي و ساتل شي، د ښوونکو د پوهني ښه والي، د بنیادي زده کړې ځخه د ستونزو دحل د مهارتونو د انکشاف په لور حرکت، د نصاب او درسي کتابونو تجدیول او د ماشومانو لپاره د دوستانه محیط ، د زده کړې صحی او مصؤنه ماحول را منځته کول نژدي هغه ځاې ته چي ماشومان هلته استوګنه کوي او داسي نور کارونه ترسره شي.

.په هغو هیوادونو کي چي د افغانستان په شان مشابه حالت لري، چیرته چي رسمي سیستمونه هڅه کوي تر ځو اړتیاوې پوره کړي، بدیلي لارې د یواځني حل په توګه ښودل شوي دي. د برک بریالي پروګرام په بنګلدیش کي دهغو لارو ځخه یوه نمونه ده، چي په یاد پروګرام کي لومړني غیر رسمي ښوونه د هغو ماشومانو لپاره چمتوکیدله کوم چي د ښوونځي دشمولیت ځخه پاتي شوي وو. دارنګه بدیل سیستمونه د هغو واقعي ستونزو د منځه وړلو لپاره چي تولنه ورسره مخامخ ده زمینه مساعدوي لکه کارګرو ته اړتیا، رسمي ښوونځیو ته واټن، د روزل شویوښونکو بي میلي په لرې پرتو سیموکي د کار لپاره او داسي نور. دا سیستمونه دلومړنیو زده کړو ته لاسرسي د یوه مناسب محلي روش له لارې چمتو کوي، او په یوشمیر ډیرو هیوادنو کي دغه زده کړې د رسمی تحصیلاتو سره مساوي معامله کیږي، دا د دي لپاره چي زده کونکي دي ته هڅوې ترځو لوړ تحصیلات تر سره کړي.

دولت په کال ۱۹۷۰ په هیواد کي د کلیوالی ښوونځېو ملاترکاوه، چیرته چي نفوس په کلي کي ډیر تیت اوپرک ؤ یا نفوس دهغه ستندرد ځخه چي د لومړني ښوونځي لپاره په پام کي نیول شوي وای،

لږ ؤ. همداسي موارد د ملي او بین المللی غیر دولتي مؤسساتو لخوا حمایت شوي ترڅو د زده کړې فرصتونه د ځانګړیو ګروپو لپاره په مختلفو پړاونو کې چمتو کړي، لکه کورني ښوونځي د نجونو لپاره د طالبان په رژیم کې، محلي ښوونځي چیرته
چې رسمي ښوونځي یا د چټکې زده کړې پروګرام د هغو ماشومان لپاره چې د ښوونځي څخه بیرته پاتي ؤ شتون نه درلود.
محلي ښوونځي او د چټکې زده کړې پروګرامونه او مشابه نور مودلو نه په افغانستان کې په ښوونځیو کې د زده کونکو په ځانګړی توګه نجونو شمولیت په برخو کې، بریالي په اثبات رسیدلي دې. د متداومه نا أمني، د امنیت اړونده تهدیدونه، د تولني عنعنات او عقاید د نجونو د زده کړې په اړه او د دولت ناتواني د لرو پرتو سیمو تر پوښښ را وستلو په اړه، محلي ښوونځي او د چټکې زده کړې پروګرامونه د دې موخی د تحقق لپاره چې وایي زده کړه د ټولو لپاره، عملي انتخابونه یا لاری بلل کیږي.

د پوهني وزارت په دې باندې متعهد دې تر څو د محلي زده کړو ملاتړ وکړي او دارنګه محلي ښوونځي په رسمي توګه د پوهني ملي سیستم د ساحوې ښوونځیودځانګی په توګه ویپژني. لاندني جوړښتونه او د پالیسي لارښودونه د محلي ښوونځیو، دهغوي تعریف، اداره، موخه، معیارونه، اړیکی، رول او د مختلفو کاری شریکانو د مسئولیتونو په وړاندې د دولت د دریځ په اړه مفصل معلومات چمتوکوي.

## موخه

د دې پروګرام د رامنځته کیدو سره، د افغانستان دولت هوډ مند دې تر څو با کیفیته ښوونه د ټولو لپاره پرته د جندر، قومیت، ژبې، مذهب، عمر، توانایی او جغرافیایی موقعیت په پام کې نیولو سره چمتو کړی.
د محلی زده کړې د رامنځته کیدو ځانګړي موخه په لرې پرتو سیمو او کلیو کې او همدارنګه په نیمه ښارې سیموکې د کوچیانو په شمول او نورو وړو قومونو ، د نجونو او هلکانو لپاره د باکیفیته لومړنیو تعلیماتونه ( د لومړۍ ټولګی نه تر نهمه ټولګی پورې)چمتو کول دې ، چیرته چې د پوهني وزارت تسهیلاتو ته لاسرسي د زیات واټن لامله نا ممکنه دې یا ماشومان د معینه عمرڅخه غټ دې او دوې نشي کولاي چې د پوهني وزارت د محلی زده کړې د محلی زده کړې کې شامل شي. سربیره پردې، محلي ښوونځي به په مؤقتی ډول نه وي او دا ښوونځي به په هیواد کې د عمومي تعلیماتو د یوې مهمی برخې په توګه فعالیت ترسره کوي.

د پوهني وزارت د محلی زده کړې د چمتو کولو په برخه کې په خاص ډول وروسته له دریمه ټولګي څخه له یو شمیر ننګونو سره مخامخ شوي، لکه د ښوونکونه موجودیت. د پوهني وزارت د محلی زده کړې د چمتوکونکو څخه غوښتنه لرې ترڅو دا امکانات برابر کړي، چې په پایله کې به زده کونکي دا فرصت ولرې تر څو لږترلږه د اول- دریمه ټولګي پورې زده کړه تکمیله کړي. د محلی زده کړې پروګرام د داوم لپاره تر نهم ټولګی پورې، د پوهني وزارت او د پروګرام د پلي کونکی همکاران وضعیت به د قضایاؤ پر بنسټ څیرۍ او ارزوې تر څو د یادو هڅو لپاره عملي چاپیریال را منځته کړي.
د محلی او دولتي ښوونځیو لپاره د ستندردونو د رامنځته کولو په موخه، د ولت او خلک په ګډه د کلیو او ښارونو په سطح باندې باید یو ملي واحد او کامل سیستم جوړ کړي ترڅو د زده کونکو، تولني او دولت په وړاندې ځواب ویلی شي. سره له دې چې، د دې شرایطو لاندې، ټول ښوونځي باید د دولت او تولني تر ملاتړ لاندې راشي، په ټولو ښوونځیو کې د محلی ښوونځیو په شمول ، تولنه باید د کیفیت د رامنځته کولو لپاره د ښوونځیو په شوراګانو کې فعال ګډون ولرې او د شورا د فعالیتونو له لارې چې دښووني او ښوونځي ملاتړ وي، مرسته وکړي. د ښوونځیو شوراګانې به د تولني ملاتړ لاسته راوړي لکه د زده کونکو مصؤنیت، نور توکي، د ښووني لپاره په ښوونځیو کې

د ګډون لپاره ملاتړ او د دولت په همکاری سره د زده کړې د ځای په تأمینولو د شورا په پریکړو او موجوده سرچینو پورې اړه لري. د ښووني کیفیت به د سرچینبو د ګډ مدیریت او ګډون له لارې په محلي کچه او د پوهني وزارت له لوری ښه شي، ځکه چې محلي ښوونځي په ټول هیواد کې را منځ ته کیږي.

د افغانستان د ښووني سیستم کې د وحدت او کیفیت د رامنځته کولو لپاره، دا مهمه ده چې دولتي او محلي ښوونځي تقویت او حمایت کړو او د دوي ترمنځ ددواړوخواؤ مؤثرې اړیکې رامنځته کړو.

## ۳. د محلي ښوونځي تعریف

د پوهني وزارت محلي ښوونځي، ښووني ته د لاسرسي د ښه والي لپاره د یوه بدیل روش په توګه پیژندلي دي. یو محلي ښوونځي/ټولګی ځخه عبارت دي د پوهني وزارت د الحاقیه ښوونځي چې په ګډ ډول د پوهني وزارت، ټولني او تسهیلونکو همکارانو لخوا ، او یا د پوهني وزارت او ټولني لخوا په لرو پرتو اوتیت اوپرک او ډیر نفوسو سیمو کې را منځته کیږي په هغو ټولنو کی چی:

أ) د جندر په پام کې نیولو سره چیرته چي دولتي مناسب ښوونځي د کوچنیانو لپاره شتون و نلري

ب) چیرته چي کوچنیان په لرې پرتو سیمو کې هستوګنه کوي، چي واټن یی د دولتي ښوونځي ځخه د دریو کیلومترو ځخه ډیر وي.

ج) چیرته چي یو ډیر شمیر ماشومان د رسمی ښووني ځخه محروم یا بیرته پاتي وي او د ښوونځي د عمرځخه غټ شوي وي، د چټک زده کړې فرصتونو ته اړتیا وي.

یو محلي ښوونځي ښوونه اوروزنه د اول ټولګي نه تر نهم ټولګی پورې چمتو کوي او په هیواد کې د عمومي تعلیماتو یو مهمه برخه بلل کیږي.

سربیره پر دی، د محلي ښوونځیو پروګرام د هغو کوچنیانو او ځوانانو لپاره چي د تعلیمی منظم فرصت ځخه وروسته پاتي دي د چټکي زده کړې د چمتوکولو یوه ښه لاره ده، چي یادي زده کړې د چټکي زده کړې د پروګرام (ALP) له لارې، چمتو کیږي. د چټکي زده کړې پروګرام د هغه کو چنیانو او ځوانانو لپاره ترتیب شوي دي چي عمرې ۱۰-۱۵ کاله پورې وي او د تعلیمی نارمل بهیر ځخه وروسته پاتي وي. د چټکي زده کړې په اړه د زیاتو تفصیلاتو لپاره C برخي ته مراجعه وکړې.

## ٤. د محلي ښوونځیو د رامنځته کیدلو معیارونه

یو محلي ښوونځی هله را منځته کیدلي شي چي لاندی معیارونه پوره کړي:

**غوښتنه :**

i. د ټولني غوښتنه د ښووني او روزني د چمتوکولو په هکله او همدارنګه په خپل کلي کې د هغوي لیوالتیا اود ښووني ځخه ملاتړ.

ii. غوښتنه باید د پوهني وزارت د ستراتیژیک پلانونو سره په مطابقت کې وي، لکه د پوهني ملی ستراتیژیک پلان، د پوهني مؤقتی پلان او کلني عملیاتی پلانونه.

**واټن/فاصله:**

i. د کلي ځخه تر دولتی ښوونځي پوری د پیاده تګ مزل د دریو کیلومتره ځخه زیات وي.

ii. همدارنګه، لاندې استثنأت د کوچیانو په ځانګړې توګه دنجونو لپاره د واټن په اړه په پام کې نیول کیږي:

- محلي جغرافیایی ځانګړتیاوې د شاهراو څخه عبور، رود خانې، غرونو او ځنګلونو په شمول ، چې د ماشومانو مصؤنیت له خطر سره مخامخوي.
- محلي عنعنات او کلتور چې د پیاده تګ په وړاندې خنډ بلل کیږي.
- موجوده امنیتی ننګوني چې د پیاده تګ په وړاندې خنډ دي.

**د ماشومانو شمیر**

i. چیرته چې د 35 – 20 د ښوونځي وړ عمرماشومان د هر ټولګي په سر موجود وي ټولګی جوړیدای. په استثنایي واقعاتو کې، د محلي ښوونځي یو ټولګی کیداي شي چې د ښوونځي د عمر وړ 10 ماشومانو لپاره او په ځانګړې توګه د نجونو لپاره جوړیدای شي. په یاد استثنایي حالت کې د پوهني ولایتی ریاستونو له لارې باید د پوهني وزارت سره موافقه وشي.

ii. د محلي ښوونځیو ټولګي به تل پرانیستي وي ان تردې که د زده کونکو په شمیر کی چې پورته ذکر شوي دي، کمښت را شي. د مثال په ډول، که چیرته یو ټولګی د 20 ماشومانو په درلودلو سره په لومړي ټولګي کې پیل او په دوهم ټولګي کې 10 زده کوونکی ورڅخه کم شي ټولګی باید دوام ولری.

**د ټولنې تعهد او ګډون**

i. ټولنه باید په دې باندې موافقه وي تر څو یو خوندي فزیکي ځاي چمتوکړي او د ښوونځي د دوام، د وسایلو، موادو او زده کونکو د مصؤنیت په وړاندې مسؤلیت په غاړه واخلي.

ii. ټولنه د ماشومانوله زده کړې ملاتړکوي او نجونو ته اجازه ورکوي تر څو ښوونځي ته لاړې شي.

iii. ټولنه په دې باندې موافقه ده تر څو ښوونکي د خپلې دندې په پرمخ وړلوکي حمایت او د اړتیا په صورت کې باید هغه د مرکزي ښوونځي څخه وګمارې.

iv. ټولنه په دې باندې موافقه ده چې د ښوونځي د شورا په رامنځته کیدو، پرمخ وړلو او فعالیت کې په فعاله توګه ونډه واخلي.

## ٥. د محلي یا الحاقیه ښوونځي د رامنځته کیدو پروسه

**د اړتیاؤ ارزونه :**

دپروګرام د پلې کید ونکو همکاران د اړتیاؤ یوه ارزونه ترسره کوي او یا د معلوماتو غوښتنه د پوهني د عمومي ریاستونو څخه کوي. د اړتیا ارزونه باید د اړوندو ولایاتو، ولسوالیو د پوهني ریاستونو او د پوهني په وزارت کې د محلي ښوونځیو اداری سره په مشوره ترسره شي.

**د پروژې ډیزاینول**

د پروګرام د پلې کونکي همکاره اداره به پروژه ډیزاینوي، پروپوزل به لیکي او د پوهني د عمومي ریاست او د ولایت د پوهني ریاست سره د تخنیکي مشوري د سرته رسولو په منظور لیدنه او کتنه کوي.

د پروژې موده باید لږترلږه د دریو کلنو لپاره وي، او ډیزاین باید د ماشومانو ګډون په لومړۍ ټولګې کې هر کال، هرچیرته چې ممکنه وې په پام کې ونیسي.

**تفاهم لیک**

د تخنیکي بحث او د پوهنې او د پلان او پالیسي د عمومي ریاستونو لخوا د پروپوزل د تائید څخه وروسته، د پروګرام دپلی کونکي همکاره اداره او دپوهنې وزارت به تفاهم لیک لاسلیک کړي. د تفاهم لیک دلاسلیک رسمی با صلاحیت مرجع به د وزارت مقام او د تدریسی معینیت مقام وي.

تفاهم لیک باید د لاندې مواردو څرګند وضاحت د ځانه سره ولري.

i. د ټولو شاملو اړخونو نقش او مسؤلیتونه.

ii. د همغږۍ، څارنې او رپوټ ورکونې میکانېزمونه.

iii. شفافیت او ځواب ورکونه.

iv. د تسلیم ورکولو طرح او زمانې چوکات.

**د ټولنې چمتو والي او ګډون**

په ټوله نړۍ کې، د ټولنې چمتوکول د ټولنې د منفی رسومو د بدلولو، دټولنې ګډون، د محلي ټولنو د غښتلي کولو، د پوهنې لپاره د اړتیا را منځته کولو او دپوهنې دولتی سیستم مسؤلیت منلو حساب ور کولو، په برخه کې یو مؤثره روش بلل کیږي. د محلي ښوونځیو د جوړیدو او تقویت لپاره د ټولنې چمتو کول لومړنې اساسي ګام بلل کیږي.

د ټولنې د چمتو کولو لپاره بریالې هڅې به د ښوونځیو د شورا ګانو د منځته را تللو په نتیجه کې را منځته شي. کله چې د ښوونځي شورا را منځته شي، یوه رسمی موافقتنامه به په یوه ستندرد فارمت کې د پروګرام د پلی کونکو همکاری اداري، پوهنې وزارت ( د ولایت او ولسوالې د پوهنې ریاستونو) او شورا تر منځ لاسلیک شی چې د محلې ښوونځې د جوړیدو او دهغې د مؤثر فعالیت په وړاندې مسؤلیتونه او دندې په نښنه کړې.

**د محلی ښوونځي جوړول**

یو محلی ښوونځې به وروسته د لاندې موضوعاتو څخه جوړیدای شي:

i. د زده کړې لپاره د یوه مناسب ځای د پیداکولو انتخابولو او آماده کولو څخه وروسته( تفصیلات په ۶ شمیره کی وګوري) .

ii. د اړتیا وړ شمیر ښوونکو د پیژندلو، انتخابولو او اړینې روزنې څخه وروسته( تفصیلات په ۱۲ شمیره وګوري)

iii. د نژدې مرکزي ښوونځي سره په همغږۍ کې د کافي شمیر زده کونکو د نوم لیکنې او شاملیدو څخه وروسته :

د زده کړې لپاره د ځای او ښوونکو انتخابول د ښوونځي دشورا د فعال ګډون، لارښوونې او مشورې له لارې تر سره کیږي. د ښوونځي شورا به په ټوله پروسه کې د شفافیت او مسؤلیت د تأمینو لو په منظور شامله وې او په لوړه کچه به ټولنه د پروسې څخه باخبره ساتې. د ولسوالی د پوهنې ریاست او که چیرې ممکنه وې مرکزې ښوونځي هم په پروسه کې باید برخه ولری.

**کلسترینګ(ګروپ بندی)**

محلي ښوونځي به د يوه کلستر يا مجموعي روش له لارې تنظيم او څارل کيږي( تفصيلات په ۷ شميره کی وګوري)

### ۶. د محلي ښوونځيو لپاره د زده کړې ځای

د ټولني  څخه تمه کيږی تر څو د يوه  محلي ښوونځي لپاره مصؤنه، پوښلي او احاطه شوي ځای چمتو کړي. يادا ځای کيداې شي چې د کلی صالون، يا په يوه کور کې کوټه او يا که چيرته دا ځايونه موجود نه وي محلي جومات و تاکل شي. ټولنه بايد په دې باندې موافقه وې، ترڅو د زده کړې د ځاې په ساتنه او امنيت تامينولو کې، مرسته وکړې.

د زده کړې د ځاې لپاره لږترلږه ستندردونه د هغو ستندردو پر بنسټ وي چې د INEE لخوائی وړانديز شوې او په لاندې ډول دي( د لازياتو معلوماتو لپاره، د INEE لږترلږه ستندردنو ته چې په افغانستان کې د پوهني لپاره ځانګړې شوي دې مراجعه وکړي ).

أ) يو اطاق چې ښه وضعيت ولري او په کافي اندازه روښنايي او ساحه هم ولري  ترڅود زده کونکو شمير په کې ځاې او په برياليي توب سره زده کړه وکړې او مصؤنيت هم په پام کې ونيول شي.

ب) د هر زده کونکي لپاره په کافی اندازه ساحه په پام کې ونيول شي.

ج) اطاق بايد داسي ځاې کې موقعيت ولری تر څو د ټول کلي هلکانو او نجونو لپاره چې غواړې په محلي ښوونځي کې ګډون وکړې، د ګټی اخستلووړ وې، د هغو ماشومانو په شمول چې معيوبيت لري.

د)  هلته  بايد کناراب نژدې شتون ولري او د ټولو  هلکانو او نجونو او ان تردې معيوبه ماشومانو  لپاره  دلاسرسی وړ وی.

ه)  د ښڅلو  مصؤنه اوبه بايد نږدې ټولګي ته د لاسرسي وړ وی.

په هر ځاې که چې امکان ولري، د محلي ښوونځي چمتو کونکي بايد  د زده کړې د ځاې ترميم، اعمار او ساختماني چارې يې په خپله غاړه واخلي، که چيرته اړتيا وي، پورته ياد شوي ستندردونه بايد پوره کړې.

### ۷. د محلي ښوونځيو clustering (ګروپ بندې)/ګلسترينګ

محلي  ښوونځي به د ګلسترنګ روش له لاری اداره کړل شي. د محلي ښوونځيو هر يو کلستر بايد د ښوونځيو اعظمی شمير د پنځو ښوونځيو په شمير په خپله اته کيلومتري شعاع محدوده کې واقع وی. هر کلستر به د يوه مرکزی معلوم شوي ښوونځي له لارې لارښوونه او سرپرستی کيږی.
د محلي ښوونځيو   کلسترينګ د مرکزی ښوونځي له لارې په دې معنې ده چې زده کونکو او ښوونکو د نوم ليکنې تسهيلول، د درسی کتابونو چمتو کول او د محلی ښوونځيو سرپرستې د مرکزې ښوونځي د مسؤل لخوا ترسره کيږی.
د محلي ښوونځيو د کلسترينګ لپاره لاندينې انتخابونه بايد په پام کې ونيول شي:

أ)  د محلي ښوونځي کلسترول د نږدې دولتی ښوونځي سره، چې وکولاې شي د يو مرکزې ښوونځي رول ولوبوی.

ب) د محلي ښوونځيو يوه مجموعه د اتو کيلومترو په محدوده کې کولاې شي چې يو کلستر جوړ کړې، چې په هغه کې مرکزی ښوونځی د مرکزی ښوونځي په توګه په پام کې نيول کيږی.

ج) .كه چيرته دولتی ښوونځي د محلي ښوونځي څخه ۸ كيلومتره يا زيات واټن ولري،د ولسوالي د څارني ټيم په ټاكل شوي دولتی ښوونځي كي د زده كونكو د نوم ليكني او د ښوونځي د څارني مسؤليت په غاړه لري.

د كلسترونو لست به د پوهني وزارت د ولايت او ولسوالي د پوهني په رياستونواوآمريتونو كي وساتل شي او هغه به د پوهني وزارت په معلوماتي سيستم كي ور داخل كړل شي.

## 8. ښوونيز كال اودمحلی ښوونځيولپاره درسی ساعتونه

د كيفيت د تأمين او د هغه ښووني او روزني سره د تطابق لپاره چي د دولتی ښوونځي لخوا وړاندي كيږي، دا مهمه ده چي هر محلي ښوونځي بايد لازمه كلني ساعتونه د ټولګيو په سطح باندي رعايت كړي، څرنګه چي د پوهني وزارت په لارښودونو كي توضيح شوي دي.

د پوهني وزارت يو لومړني ښوونځي په ورځ كي دري ساعته د پوهني پروګرام پرمخ بيايي او په اوني كي د شپږو ورځو لپاره، په كال كي نهه پر له پسي مياشتی(پرته د ملي رخصتيو). همدارنګه، د محلي ښوونځي ساعتونه او وخت كيداي شي د ټولني د اړتياو پر بنسټ په خاص ډول دكوچيانو لپاره، تغيير ومومي البته دا په هغه صورت كي چي مجموعی ټاكل شوي ساعتونه د تعليمی كال په پاي كي بايد تحقق ومومي.

يو محلي ښوونځي كولاي شي هغه دولتی رخصتي او همدارنګه هغه رسمی رخصتی چي د پوهني وزارت لخوا اعلانيږي په پام كي ونيسي.
جدول ۱ : لاندي د اونی تدريسی پلان يوه نمونه د لومړني ښوونځيو ۹-۱ټولګی چي د محلي ښوونځيو لپاره د يو لارښود په بڼه، وړاندي شوي ده.

| شميره | مضمون | ټولګی | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | لومړي | دوهم | دريم | څلورم | پنځم | شپږم | اوم | اتم | نهم |
| ۱ | قرانكريم/تفسير | ۳ | ۳ | ۳ | ۳ | ۳ | ۳ | ۲ | ۲ | ۲ |
| ۲ | تعليمات اسلامی | ۳ | ۳ | ۳ | ۲ | ۲ | ۲ | ۳ | ۳ | ۳ |
| ۳ | مورني ژبه | ۶ | ۶ | ۶ | ۵ | ۵ | ۵ | ۳ | ۳ | ۳ |
| ۴ | دويمه ژبه | | | | ۳ | ۳ | ۳ | ۳ | ۳ | ۳ |
| ۵ | بهرني ژبه | | | | ۳ | ۳ | ۳ | ۳ | ۳ | ۳ |
| ۶ | عربی ژبه | | | | | | | ۲ | ۲ | ۲ |
| ۷ | رياضی/الجبر | ۵ | ۵ | ۵ | ۳ | ۳ | ۳ | ۳ | ۳ | ۳ |
| ۸ | جغرافيه | | | | ۲ | ۲ | ۲ | ۲ | ۲ | ۲ |
| ۹ | فزيک | | | | | | | ۲ | ۲ | ۲ |
| ۱۰ | كيميا | | | | | | | ۲ | ۲ | ۲ |
| ۱۱ | بيولوژی | | | | | | | ۲ | ۲ | ۲ |
| ۱۲ | اجتماعی علوم | | | | ۲ | ۲ | ۲ | | | |
| ۱۳ | تاريخ | | | | | | | ۲ | ۲ | ۲ |
| ۱۴ | جغرافيه | | | | | | | ۲ | ۲ | ۲ |
| ۱۵ | اقتصاد/معلومات/تاديب | | | | | | | ۱ | ۱ | ۱ |

| | | | | | | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| ۱۶ | انسان او چاپیریال | | | | ٢ | ٢ | ٢ | | | |
| ۱۷ | د ژوند مهارتونه | ٢ | ٢ | ٢ | | | | | | |
| ۱۸ | خط | ٢ | ٢ | ٢ | ٢ | ٢ | ٢ | | | |
| ۱۹ | رسامی | ٢ | ٢ | ٢ | ٢ | ٢ | ٢ | | | |
| ٢٠ | سپورت | ١ | ١ | ١ | ١ | ١ | ١ | ١ | ١ | ١ |
| ٢١ | حرفه/مسلک | | | | | | | ١ | ١ | ١ |
| ٢٢ | انتخابی مضمون( زراعت، معلوماتی او ارتباطی تکنالوجی، چاپیریال او داسي نور) | | | | | | | ١ | ١ | ١ |
| | مجموعه | ٢۴ | ٢۴ | ٢۴ | ٣٠ | ٣٠ | ٣٠ | ٣۶ | ٣۶ | ٣۶ |

## ۹. د محلي ښووڼځيو سرپرستي او څارنه

محلي ښوونځي به دلاندې ښتونو له لارې سرپرستی او څارل کیږي:

أ) د محلي ښوونځيو څانګه د پوهنې وزارت د پوهنې په عمومي رياست کې،

ب) د محلي ښوونځيو مامورين چې د ولايت د پوهنې رياست کې ګمارل شوي دي.

ج) د ښوونځيو د شوراګانو له لارې چې د هر محلي ښوونځي لپاره را منځته شوي دي.

د) د مرکزی ښوونځي مسؤل له لارې.

ه) د تدريساتو د عمومی رياست د څارنې د برخی غړي د ولسوالي، ولايت او مرکز په کچه باندی

و) د تمويل کونکي او دپروګرام د پلي کيدونکی همکاری اداري

## ۱۰.د ښوونځي شورا د محلي ښووڼځي لپاره

د ښوونځي يوه شورا به په هر محلي ښوونځي کي جوړيدای شي مګر دا چي د تولني کميتي ( محلي شوراګانو، د ملي پيوستون پرمختيايی کميتي ) دغه مسؤليت په غاړه اخيستلي وي. د شورا غړي بايد د تولني فعال استوګن وي او په تولنه کي پوهني ته د تولو ماشومانو د مساوی لاسرسی په اړه، متعهد وي. د شورا غړي به د محلي ښوونځيو د څارنکو په حيث عمل کوي او که چيرته ښوونکی د ستونزو سره مخامخ شي د هغوي سره به د ستونزو په حلولو کي مرسته کوي او په دي باندي بايد قادر وي تر څو د محلي ښوونځيو څخه په منظمه توګه څارنه وکړي.

د شورا تشکيل او جوړيد لو پروسه بايد انعطاف منونکی وي(٧-٣ ترمنځ غړي)، د محلي ښوونځي په شمول لږترلږه يو ښوونکي، د ښځو ، ځوانانو او ماشومانو ونډه بايد په کي وهڅول شي. د پوهني وزارت له لارښودونه د محلي ښوونځيو د شوراګانو دجوړيدو په هکله کيداې شي ګټه واخستل( ضميمه---------) شي. په هر نوي تعليمی کال کي د ښوونځيو شورا بايد د سره وتاکل يابيا ومنل شي.

د ښوونځيو شورا د محلي ښوونځيو د سرپرستي په ورانديو او د ټولني ماشومانو ته د باکيفيته ښووني د وړاندې کولو د تأمين په وړاندې مسؤليت په غاړه لري. ياده سرپرستی د ښوونځيو د کارکونکو او زده کونکو د ګډون ارزونه او څارنه، د ټولني د مرستو او ګډون فعالول (بسيجول) او د مرکزي ښوونځي او د ولايت د پوهني رياست سره اړيکه نيول په خپل لړکي لري. سرپر ستي او نور مسئوليتونه به په هغه توافق ليک کي چي د پوهني وزارت او د ښوونځي شورا لخوا لاسليک کيږي په تفصيل سره تشريح شي.

## ۱۱.د زده کونکو نوم ليکنه، بدلول او فارغيدل

أ) د ښوونځي د عمر وړ ماشومان (نجوني او هلکان) ( دمثال په ډول ۹-۷ کلن د لومړي ټولګي لپاره) په محلي ښوونځي کي د ګډون لپاره دشرايطو وړ/مناسب دي. د پوهني وزارت لارښود د لومړني زده کړي په اړه د ښوونځي مناسب عمر د ټولګي په اساس، ګټه واخستل شی.

ب) د پوهني وزارت د زده کونکو د نوم ليکني فورمي کيداي شي چي د محلي ښوونځيو د زده کونکو د نوم ليکني لپاره تری کټه واخستل شي.

ج) د محلي ښوونځيو د زده کونکو نوم ليکنه به په هغه مرکزی ښوونځي کي ترسره شي چيرته چي محلي ښوونځي د هغه ښوونځي په کلستر کي شامل دي. هر زده کونکي ته به د پيژندګلوي يوداساس نمبر د پوهني وزارت لخوا د ولايت په سطح، ورکړل شي. د نوم ليکني لارښود د عمومي تعليماتو رياست په کابل کي شته دي او د ټولو تسهيلونکو همکارو ادارو په لاسرسی کي بايد کيښودل شي. څرنګه چي د مخه ورباندي بحث وشو په هغو محلاتو کي چي مرکزي ښوونځي په نږدو ساحو کي موجود نه وي د نوم ليکني پروسه او د پيژندګلوي د شميري ورکول به د ولسوالي په سطح د سرپرستي ټيم په واسطه اسانه کيږي.

د) د زده کونکو آزموينه او فارغيدل په محلي ښوونځيو کي د دولتي ښوونځيو په شان ده.

ه) دولتی ښوونځي ته د زده کونکي ليږد يا داخليدل بايد لږ وروسته ترسره شي، زده کونکي به د پوهني وزارت د تبديلي فورمه په کارولو سره د محلي ښوونځي څخه دولتی ښوونځي ته تبديليږي، چي ياد فورمه بايد د مرکزي ښوونځي لخوا لاسليک شي.

و) د محلي ښوونځيو د پلي کيدو همکارې اداري بايد د پوهني دوزارت معلوماتی سيستم واحده فورمه وکاروي ترڅو د دولت د پوهني وزارت معلوماتی سيستم سره چي په ملي سطحه معلومات را غونډوي يوشانته وي.

ز) د پروژی د پلي کونکو همکارې ادارو، مرکزی ښوونځی، او سرپرستي ټيمونو مسؤليت دادې تر څوځان ډاډ من کړي چي هغه کوچنيان چي په دولتي ښوونځي کي شامل کړاي شوي دي په محلي ښوونځي کي شامل شوي ندي.

## ۱۲.د محلي ښوونځيو د ښوونکو استخدامول، معاش او ترينګ

**استخدام او تحصيلي ځانګړتياوې**

د محلي ښوونځيو لپاره ښوونکي بايد د لاندې معيارونو په پام کې نيولو سره استخدام شي:

i. لاندي کانديدانو ته بايد په ترتيب سره لومړي توب ورکړل شي:

أ) تحصيلی درجه يی لسانس ، اويا د دارالمعلمين څوارلسم فارغ په سطحه وي .

ب) د ثانوي ښوونځي څخه فارغين( يا نور ښوونځيو چي د ۱۲ ټولګی معادل وي)

ج) په استثنايی موارودو کې بالقوه ښوونکي چې د تحصيل سطحه يی د دولسم ټولګی څخه ښکته وي، لږترلږه شپږم ټولګي پوري (دهغو معادل) د اجير ښوونکي په صفت د توانايی، علاقه مندي او د ښوونځي د شورا د تائيد په اساس باندې قبليدلی شي. دارنګه ښوونکي ځانګړيو زده کړو ته اړتيا لري، چې د تسهيلونکو همکارانو او د پوهني وزارت لخوا ورته چمتو کيږي. د پوهني وزارت د اړتيا سره سم، په پام کې لري چې دارنګه ښوونکو ته فرصتونه مساعد کړي تر څو وکولاي شي خپله تعليمی سطح وچته کړي، چې دا کار د نږدې دولتي ښوونځی له لارې او يا د چټکي زده کړې د پروګرام له لارې ترسره کيدای شي. سربيره پر دې، ځانګړې روزني او تعقيبي تقويتی ښووني به يادو ښوونکو ته د همکارو ادارو او د پوهني وزارت لخوا، چمتو کيږی.

ii. د دې حقيت پام کې نيولو سره چې يو شمير زياتو نجونو ته اجازه نشته ترڅو هغه ښوونځي ته لاړې شي چې هلته نارينه ښوونکي تدريس کوې، نو له دې کبله د نجونو محلي ښوونځيو لپاره د ښځينه ښوونکو استخدامولو ته لومړيتوب ورکول کيږی. ترهغه وخت پورې چې افغانستان په کافي اندازه ښځينه مسلکی ښوونکي ونلرې ،څرنګه چې په مخکيني معيار کی ذکر شوې، ښځينه ښوونکي به استخداميږې حتي که د دوې تحصيلي سطح د شپږم ټولګی څخه ښکته هم وی.

iii. په داسې موارودو کې، ښوونکي په اجباري ډول بايد په هغه ترينګونو کې ګډون وکړې، چې د پوهني وزارت لخوا يا د همکارو ادارو لخوا چمتو کيږي. هغه اداري چې د پلي کيدو مسئوليت لري د ځانګړی ترينګ محتويات به د پوهني وزارت د ښوونکو د زده کړې رياست او دمحلي ښوونځيو د ځانګي سره په مشوره باندې طرح او ترتيبوې. هغه ښوونکي چې په دې سطح کې دي بايد هغو ټولګيو ته چې د دوی د تعليمی سطحی څخه وچت دی، زده کړه ور نکړې.

iv. هغه چاته به لومړې توب ورکړل شي څوک چې د ټولني د تائيد وړ او د ټولني په امورتو کې فعال وي او همدارنګه د محلي ښوونځي د ښوونکي په توګه دد ندې پرمخ بيولوليوالتيا ولرې.

v. د پوهني وزارت به د محلي ښوونځيو ښوونکو ته چې تحصيلي سويه ئی د دولسم ټولګی څخه ښکته وې، د تصديق ورکولو يو سيستم را منځته کړې. په ياد سيستم کې د په نښه کولو يوه آزموينه(سکرينګ) شامله ده ترڅو د خدمت په دوره کې د ښوونکي تحصيلي سطحه معلومه کړې.

**د ښوونکو نوم ليکنه او اعتبار ورکونه**

i. د محلي ښوونځيو د ټولو ښوونکو نوم ليکنه به په رسمي توګه د مرکزي ښوونځيو له لارې د پوهني وزارت لخوا ترسره شي( بعضې موارودو کې به ښوونکي د اجير په صفت وې). دا کار به د محلي ښوونځيو د ښوونکو په اړه معلومات، د پوهني وزارت معلوماتي سيستم

تأمين کړي. د ټولو محلي ښوونځيو ښوونکو ته به د دندو لوايح ترتيب شي او دوي بايد د سلوک دطرز مقرره لاسليک کړي.

ii. د محلي ښوونځيو ښوونکي به همدارنګه د ښوونکو د وړتيا د تعيين په ملي آزموينه کې چې د پوهنې وزارت لخوا په لاره اچول کيږي، ګډون وکړي. هغه ښوونکي چې په بريالي توب سره د آزموينې څخه را بهر شي، هغوي ته به د ښوونکي تصديق او اعتبار ورکړل شي. که چيرته د محلي ښوونځي ښوونکي په دې ونه توانيږي چې د آزموينې څخه په بريالي توب سره بهر شي، دوي به د اجير په صفت خپل کار ته دوام ورکوي، د پوهنې وزارت د لارښودونو سره سم به وخت په وخت ارزول کيږي.

### د ښوونکو معاش او حاضري

i. ټول هغه ښوونکي چې په محلي ښوونځيو کې ګمارل کيږي، هغوي ته د خدمت رسمی قرار داد د پوهنې وزرات يا د پلی کونکو ادارو لخوا د دوې د ادارې چوکات په محدوده کې ورکول کيږي.

ii. د محلي ښوونځيو د ښوونکو معاشات به د دولت د معاشونو د ميزان په مطابق او دهغه لارښود په اساس چې د محلي ښوونځيو ښوونکو لپاره تعيين شوي، ورکول کيږي.

iii. د ښوونکو حاضري به د ښوونځي د شورا، پوهنې وزارت او د پروژې د پلي کونکو همکاره ادارې، لخوا د اونۍ او مياشت په اساس څارل کيږي. دحاضري، رخصتي، رخصت اخيستنې او غير حاضري په اړه، د پوهنې وزارت قوانين به پلي کيږي

iv. .که چيرته د پوهنې وزارت ومنله چې ښوونکو ته معاش ورکړي، د حاضرۍ رپوټ بايد مرکزي(دولتي) ښوونځي ته وليږل شي چې د هغې مطابق به د دوي معاشونه حواله شي. که چيرته د پروګرام د پلي کولو ادارې د معاش ورکولو مسئوليت په غاړه واخيستلو، د حاضري رپوټ به اړونده ادارې په چوکات کې راټول او څارل کيږي.

### د ښوونکو روزنه/ترينګ

ښوونکي به په دوامداره توګه د مضمون، تدريسي مهارتونو، اداري ظرفيت او دندې ته د تعهد په پام کې نيولو سره د دوي د استخدام د پيل څخه ارزيابی کيږي.

د محلي ښوونځيو د ښوونکو، آشنايي او تقويتي روزنه بايد د لنډې مودې لپاره وروسته د دوي د استخدام څخه او په هرکال کې د دوي د ګډون له لارې په داخل خدمت ښوونيز پروګرامونو کې چې د همکارې ادارې يا د پوهنې وزارت د ښوونکو د زده کړې د رياست لخوا چمتو کيږي، ترسره شي.
همدارنګه، د پوهنې وزارت او د پروګرام د پلي کونکو همکارې ادارې به د دې لپاره کار کوي، تر څو محلي ښوونځيو د ښوونکو لپاره د داخل خدمت او د خدمت څخه مخکی د روزنې يو ستندرد پکيج چمتو کړي.

## 13.د درسي کتابونو او د زده کړې د توکو چمتو کول

په هیواد کې محلي ښوونځي د پوهنې وزارت دعمومی تعلیماتویوه مهمه برخه بلل کیږي. د پروګرام پلي کونکی همکارې ادارې به د پوهنې وزارت نصاب کارول په ټولو محلي ښوونځیو کې تأمینوې. پوهنې وزارت د همکارو ادارو د اړتیا سره سم، د د درسي کتابونو د چمتوکولو په وړاندې مسؤلیت لرې. د پروګرام د پلي کیدونکی همکارې ادارې باید لږترلږه یوه ربع مخکې د تعلیمی کال د پیل څخه د کتابونو غوښتنه وکړې

د زده کونکو لپاره د درسي موادو چمتوکول به معیاری وې او هغه زده کونکي چې په محلي ښوونځي کی درس لولي حق لرې چې د دولتي ښوونځیو د زده کونکو په شان د معیارې درسي توکو څخه ګټه پورته کړې. د پروګرام د پلی کونکی همکارې ادارې د محلي ښوونځیو زده کونکو لپاره داسانتیا او نورو درسي توکو د چمتوکولو مسئولیت په غاړه لرې.

## C برخه – د چټکي زده کړې پروګرام

### ۱٤.د چټکي زده کړې پروګرام تعریف

د چټکي زده کړې پروګرام د محلي زده کړو ، یوه برخه بلل کیږې چې مخکې ورباندې بحث وشو البته په لاندې توپیرونو سره :

أ) د چټکي زده کړې پروګرام داسې طرح شوي دی چې په هغې کې زده کونکې کولاې شي دوو ټولګې په یوه تعلیمی کال کې د ۶-۱ ټولګې پورې، ولولې.

ب) د چټکي زده کړې په پروګرام کې، د اول نه تر دریم ټولګې پورې زده کونکې شپږ ورځې په هفته کې ( شنبه تر پنجشنبه) د پنځو ساعتو لپاره هره ورځ ګډون کوي، چې په مجموع کې ۳۰ درسې ساعت جوړوې.

ج) د چټکي زده کړې په پروګرام کې، د اوړې لخوا تدریسې ساعت باید ۴۵ دقیقې او د ژمې لخوا تدریسې ساعت ۳۰ دقیقې ټاکل شوي دې. د ورځې په درسې ساعتونو کې د زده کونکو لپاره ۱۵ دقیقې تفریح په پام کې نیول شوې ده. د ورځنې درسونو موده د ټولنې د غړیو په پریکړې پورې اړه نیسې.

د) د چټکي زده کړې پروګرام به۶-۴ ټولګیو کې زده کونکې باید شپږ ورځې په اونۍ کې د شپږو ساعتونو لپاره حاضرې ورکړې، چې په اونۍ کې ۳۶ ساعته کیږې.

جدول ۲ :د چټکي زده کړې پروګرام د یوې اونۍ درسې پلان یوه بیلګه

| شمیره | مضمون | ټولګی | | | | | |
|---|---|---|---|---|---|---|---|
| | | لومړي | دوهم | دریم | خلورم | پنځم | شپږم |
| ۱ | قرانکریم/تفسیر | ۵ | ۵ | ۵ | ۴ | ۴ | ۴ |
| ۲ | دیني روزنه | ۴ | ۴ | ۴ | ۴ | ۴ | ۴ |
| ۳ | مورني ژبه | ۹ | ۹ | ۹ | ۸ | ۸ | ۸ |
| ۴ | دویمه ژبه | | | | ۴ | ۴ | ۴ |
| ۵ | بهرني ژبه | | | | ۴ | ۴ | ۴ |
| ۶ | ریاضی/الجبر | ۶ | ۶ | ۶ | ۵ | ۵ | ۵ |
| ۷ | انسان او چاپیریال | | | | ۲ | ۲ | ۲ |
| ۸ | د ژوند مهارتونه | ۳ | ۳ | ۳ | | | |
| ۹ | خط/رسم خط | ۳ | ۳ | ۳ | ۲ | ۲ | ۲ |
| ۱۰ | اجتماعی علوم | | | | ۳ | ۳ | ۳ |
| | مجموعه | ۳۰ | ۳۰ | ۳۰ | ۳۶ | ۳۶ | ۳۶ |

## ۱۵.د چټکي زده کړې په مرکزونو کې شموليت

أ) هغه ماشومان چې په خپل مناسب عمر کې د بعضو لاملونو له کبله په مکتب کې ندې شامل شوې ( عمر يې ۱۵-۱۰ ترمنځ وې) د چټکي زده کړې پروګرام په مرکزونو کې به وروسته د دوي د تذکرو د ليدلو څخه، شامل کړاي شي. که چيرته دوي تذکره ونلرې د دوي عمر به د دوي د ظاهر وضعيت څخه تعيين کړل شي. د دوي د شموليت څخه وروسته به، د دوی د والدينو څخه وغوښتل شي تر څو دوي ته تذکره واخلي. هغه داوطلب زده کونکو چې عمر يې د ۱۵ کلنو څخه زيات دې بايد د ځوانانو د ليک او لوست پروګرامونو کې شامل کړاي شي.

ب) د چټکي زده کړې دپروګرام زده کونکي به دهغه کميسيون له لارې شامل کړاي شي چې د ټولنې د شورا استازو، د چټکې زده کړې د پروګرام ښوونکو او د دولتي ښوونځيو د مديرانو څخه جوړ شوي دي

ج) د زده کونکو د شموليت کميسيون د شموليت فورمه د زده کونکو په والدينو باندې ډکوي او هغه د راتلونکي لپاره ساتي.

د) ياد کميسيون د نويو شامل شويو زده کونکو لپاره يو مکمله پيژندګلوي د دوه کاپيو سره د نوم ليکنې د کتاب سره سم چمتو کوې.

ه) ښوونکي دهغو شامل شويو زده کونکو لست د حاضرې په کتاب کې داخلوي او هغوي ته به درس پيلوی.

و) د نجونو زده کړې په اړه بايد لازمه توجه او پاملرنه وشي.

ز) هغه زده ه کونکي چې د چټکي زده کړې پروګرام مرکزونو ته څيرمه ژوند کوي بايد د چټکي زده کړې پروګرام په مرکزونو کې شامل کړاي شي.

## ۱٦.د آزمو ينې کړنلاره

أ) د چټکي زده کړې په پروګرام کې، آزموينه به د عمومي ښوونځيو د لارښودونو سره سم اخيستل کيږي. د چټکي زده کړې پروګرام ښوونکي د آزموينې اخيستنې او ارزونې د ډيزانولو او په لاره اچولو په برخو کې ترينينګ او حمايت ته اړتيا لرې.

ب) د چټکي زده کړې پروګرام د زده کونکي دآزموينې پارچې به د درجه بندي د معيارونو په اساس په نښه کيږي، بايد معيارونه د عمومې زده کړې پروګرام د آزمو ينې په لارښودونو کې شامل وې.

ج) د چټکي زده کړې پروګرام آزموينه به تحريرى، شفاهي، شفاهي تحريرى او عملي ډول اخيستل کيږي.

د) يواځې هغه زده کونکي کولاي شي چې په آزموينه کې ګډون وکړې، چې ۸۵٪ حاضرى د چټکو زده کړو ښوونيزو مرکزونو کې ولرې.

ه) هغه زده کونکي چې منطقي معذرت لرې او کولاي شي چې د ښوونکي قناعت ترلاسه کړي نو د ۷۵٪ حاضري په درلودلو سره په آزموينه کې ګډون وکړې. منطقي معذرت کيدلاي شي چې مريضي د داکټر او يا د کلي د مشر ( که چيرته په کلي کې ډاکټر نه وی) تصديق، ترافيکى حادثه، د نژدې خپلوانو مړينه او غير مترقبه پيښې لکه زلزله، وې.

## ۱۷.په دولتي ښوونځيو کي د چټکي زده کړې پروګرام د زده کونکو شموليت

أ) کله چي د چټکي زده کړې پروګرام زده کونکي د شپږم ټولګي څخه فارغ شي، هغوی به د مرکزی (دولتي) ښوونځي په اوم ټولګي که شامل کړاي شي، مرکزی ښوونځي هماغه د اړونده کلستر ښوونځي دي او يا نور دولتي ښوونځي هم کيداي شي.

ب) د پوهني وزارت په نورو دولتي ښوونځيو کي د چټکي زده کړې د ښوونځيو د زده کونکو شموليت وروسته د مرکزې (دولتي) ښوونځي له تائيد څخه ترسره کيږې، مرکزې ښوونځي بايد د زده کونکي مجموعي پايلي له نظره تيرى کړې.

ج) د چټکي زده کړې پروګرام پلي کونکی اداري بايد د ټولو هغو زده کونکو يو مکمل لست چمتو کړې چي د شپږم ټولګي څخه فارغيږې او هغه بايد په رسمي ډول د ولسوالی پوهني آمريت ته وليږې .

د) د چټکي زده کړې هغه زده کونکي، چي مخکي د شپږم ټولګي څخه يي پروګرام دځينو دلايلو لامله پريښي وې او د دوي د نوې استوګن ځاې چاپير د چټکي زده کړې کوم مرکز شتون ونلرې، هغوي ته بايد په دولتي ښوونځي کي د شموليت اجازه ورکړل شي.

ه) له هغه ځايه چي د چټکي زده کړې ټولګي بيا دسره نه تکراريږې، نو هغه زده کونکي چي ناکام پاتي کيږې کولاي شي چي د دولتي ښوونځي په هماغه ټولګي کي وروسته د دوي د اسنادو د کتلو څخه، شامل شي.

## D برخه –

## 18.د محلي ښوونځيو د تسليمولو پروسه

### تسليمول

د محلي ښوونځيو د تسليمولو بهير د لاندي انتخابونو څخه يو بايد تعقيب کړي:

**د زده کونکو مدغمول په دولتي ښوونځيو کي**
ټول زده کونکي، دخپلو درسي کتابونو او نورود ښوونځی توکو سره به، مرکزي (دولتي) ښوونځي ته، چيرته چي د دوي اصلي نوم ليکل شوی دی وليږدول شي.

**د مرکزي(دولتي) ښوونځي د الحاقيه ټولګيو په توګه دوام**
هر هغه چيرته چي د محلي خلکو غوڅ اکثريت دي ته ليوال نه وي تر څو خپل ماشومان په ځانګړي توګه نجوني مرکزي(دولتي) ښوونځي ته واستوي، البته د مختلفو لاملونو له کبله لکه عنعنات، د ښو لري مزل، جغرافيايي ستونزي، امنيت و داسي نور. دارنګه محلي ښوونځي به د مرکزي(دولتي) ښوونځيو د الحاقيه ټولګيو په توګه خپل فعاليت ته دوام ورکوي.

**لومړني ښوونځي ته ارتقا ورکول**
يو محلي ښوونځي هغه وخت لومړني ښوونځي ته د ارتقا ورتيا لري، کله چي د ښوونځي وړعمر ماشومانو شمير ۲۵ او يا زيات وي. په داسي مواردو کي، خلک او د محلي ښوونځي تأمينونکي د پوهني وزارت څخه د ولايت په کچه غوښتنه کولای شي، تر څو د دوي محلي ښوونځي دلومړني ښوونځيو د را منځته کيدلو د لومړي توب لست کي ونيسي.
که چيرته د پورتنيو انتخابونو څخه يو هم ممکنه نه وي، د پروګرام د پلي کونکو همکاره اداره د محلي ښوونځی ملا تړته ترهغي دوام ورکوي ترکومه چي ددواړوخواوٴ موافقه وربانـدي شوې وی.

**د محلي ښوونځيو د ښوونکو ادغامول**
د تسليمولو په ټوولو انتخابونو کي، که چيرته د محلي ښوونځي ښوونکو د پوهني وزارت معيارونه پوره کړل نو هغوي به هم د پوهني وزارت تشکيل ته وليږدول شي.

## ۱۹.د پروګرام دپلي کونکي همکارو ادارو رول وروسته د تسليمي څخه

د پروژي د ډيزاين په ترڅ کي، د پروګرام د پلي کيدو همکاري اداري ته اړتيا شته تر څو د يوه کال لپاره تعقيبي ملاتړ په لاندي برخوکي وروسته د تسليمي څخه ولري:

أ) د هغو ټولګيو څارنه چي دولتي ښوونځي ته تسليم شوي دي.

ب) د زده کونکو، ښوونکو، د دوي حاضري ګاني، درسي کتابونو او نورو ښوونيزو توکي، کتابتون، لابراتوار او نور اړونده اسنادو او توکو سمه ليږدونه دولتي ښوونځي ته.

## ۲۰.د محلي ښوونځي تړل

په لاندي شرايطو کي محلي ښوونځي تړل کيږي:

أ) د زده کونکو شمير د لسو څخه ښکته شي. همدارنګه، د ولايت د والي څخه او يا د پوهني وزارت وزير د اجازي ته اړتيا شته تر څو ټولګی ته دوام ورکړل شي.

ب) کله چي ښوونکي استعفا ورکړي او بل دشرايطو وړ ښوونکي شتون ونلري.

ج) امنېتی وضعیت که چیرته د پلي کونکي اداري، ماشومانو، ښوونکو او په مجموعي ټوګه ټولني ته ګواښ پیښوي.

په داسي مواردو کي د پروګرام د پلي کونکي همکاره اداره د محلي ښوونځي تړل په تحریري توګه د پوهني وزارت ته د ولسوالي یا ولایت په کچه باندې اطلاع ورکوي.

## E برخه - نهايي احکام

### ۲۱.د دې لارښود حکم

د پروګرام د پلی کونکو غیر دولتي مؤسسات او خلک د پوهني وزارت د ولسواليو او ولايتي رياستونو سره يو ځاي د محلي ښوونځيو لپاره بايد د INEE لږترلږه معيارونه په پام کي ونيسي. اوس مهال ياد لارښود تسويد شو او د ټولو هغو غير دولتي مؤسساتو په ګډون به نهايی شي، چي د محلي ښوونځيو په برخه کي په ټول هيواد کي په دنده بوخت دي. ياد لارښود باکيفيته زده کړي د اندازي وړ معيارونو او د ټولني د خلکو د اړتياوو سره سم، تعريف او تشريح کوي. د محلي ښوونځيو لپاره لږترلږه معيارونه، د محلي ښوونځيو د پاليسي يوه لويه برخه جوړوي.

### ۲۲.نور معتبر اسنا د

که چيرته په دې مورد کي مفصلو معلوماتو ته اړتيا پيښيږي، تاسي کولاي شي چي د پوهني اساسي پاليسي او قانون ته مراجعه وکړي.

### 23.تنفيذول

د پوهني وزارت او ملي او بين المللی مؤسساتو لومړي او دوهمه ځانګه په دې باندې مکلفه ده تر څو ياد لارښود د پوهني وزير د لاسليک څخه وروسته پلی کړي.

### ۲۴.د ياد لارښود د پلی کونکو لپاره سرچيني او مواد

دا لارښود څلور فصله(۲۵ مادې) لري. ياد عمر به د پوهني عمومي رياست د محلي ښوونځيو په ځانګه کي موجود وي. او همدارنګه کولاي شي چي دې سند ته په مستقيم ډول په www.moe.gov.af سايت کي لاسرسي ولري.

ولوستل شو او لاسليک شو د

داکتر فاروق وردک
د پوهني وزير لخوا
نېټه :